# ډاکتر نجیب الله



ډاکتر نجیب الله

نجیب الله د اختر محمد زوی او د ۱۹۴۶م کال د اګست پر ۶ (۱۳۲۵ هـ ل د زمري ۱۵) نېټه د کابل د ښار په مرادخانیو کي زېږېدلئ وو . په ۱۳۳۱ هـ ل کال کي د کابل د ده افغانان په لومړني ښوونځي کي په لوست بوخت سو او په ۱۳۴۲ هـ ل کال کي د حبیبیې د لېسي څخه فارغ سو . په ۱۳۴۴ هـ ل کال کي یې د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کي په لوړو زده کړو پیل و کړ . د پوهنتون په دوره کي په سیاست لګیا سو . د ۱۳۴۴ کال د جدي په میاشت کي د خلق دیموکراتیک ګوند غړئ سو . پښتو ، فارسي ، اردو او انګلیسي ژبي یې زده وې .

په ۱۳۴۸ کال کي د سیاسي فعالیتو په نسبت درې میاشتي بندي سو . یو ځل بیا په ۱۳۴۹ کال کي ۹ میاشتي بندي سو . د بندي کېدو او سیاسي فعالیتونو په نسبت درې کاله د پوهنتون څخه پاته سو .

په ۱۳۵۴ کال کي د پوهنتون څخه فارغه سو . په ۱۳۵۶ کال کي د خلق د دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې غړئ سو . د ۱۳۵۷ کال د سرطان په میاشت کي په ایران کي د افغانستان د سفیر په توګه و ټاکل سو . په ۱۳۵۸ هـ ل کال کي د هغې دندي څخه ایسته سو . د هغه ځایه یوګوسلاویې ته ولاړ څو د جدي د میاشتي پر ۲۱ نېټه بیرته هیواد ته راغئ او د خاد ریس سو .

په ۱۳۶۵ کال کي د ګوند د عمومي منشي په توګه و ټاکل سو . د دغه کال د جدي پر ۱۳ غونډه و سوه چي ملي روغه جوړه دي و سي ، د ټولو ګوندونو په ګډه دي یو حکومت جوړ سي او جنګ دي نه وي . د دغه کال د جدي د میاشتي پر ۲۵ نېټه یې یو یو اړخیز اوربند اعلان کړ . او د دلوي پر ۱ نېټه یې سیاسي بندیان ازاد کړه ، بیرغ ته یې تغییر ورکړ . څو میاشتي وروسته یې لویه جرګه را و بلله او د اساسي قانون پر مسوده یې کار پیل کړ .



د ۱۳٦۷ کال د حمل پر ۲٤ نېټه یې د ژینیو قرارداد لاسلیک کړ. د ۱۳٦۷هـ ل کال د دلوي پر ۲۷ نېټه د شوروي اتحاد عسکر د هیواد څخه و وتل.

ډاکټر نجیب په ۱۳۷۰ کال کي د حوت د میاشتي پر ۲۷ نېټه د ملګرو ملتونو د استازي د غوښتني او ګرنټي سره سم یوه بیانیه خپره کړه. هغه دا چي قدرت به یوه جلا وطنه حکومت ته کوم چي د هیواد څخه بهر په پېښور کي ترتیب سوئ وو پرېږدي.

کله چي ډاکټر نجیب قدرت مجاهدینو ته پرېښود، لومړی صبغت‌الله مجددي د دوو میاشتو د پاره واکي په لاس کي وا خیستلې. ډاکټر نجیب و نه کولای سوای چي د هیواد څخه و وزي. دی د ملګرو ملتونو په دفتر کي و ساتل سو. کله چي په ۱۳۷۵ کال طالبانو قدرت واخیست هغه وو چي د میزان پر ۵ نېټه د طالبانو له خوا په دار و ځړول سو.